لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران نیټه ۳۰/۱۲/۲۰۰۷

افغانستان او نړیواله جزایي محکمه، د دِنهاګ نړیواله محکمه

د ۱۹٤٦ کال د اپریل د میاشتي په ۱۸ نیټه نړیوالي محکمي خپله لومړنی ناسته د هالند په دن هاګ ښارکي وکړه .
د نړیوالي محکمي اصول او صلاحیتونه د ملګرو ملتو په منشور کي تصویب او ټاکل شوي دی .
نړیواله محکمه ۱۵ قاضیان لري چې دوی د مختلفو هیوادونو تابعیت لري . دغه قاضیان د م . م . دملي اسمبلی او امنیت شورا له خوا د پنځه کالو لپاره ټاکل کیږي . د قاضیانو په ټاکلو کي بایدله جغرافیایي پلوه د نړۍ پنځه سیمې په پام کي ونیول شي . هر درې کاله دریمه برخه قاضیان نوي ټاکل کیږي .
قضیان د دعوې او پریکړې پرمهال د خپل هیواد استازیتوب نه شي کولی . دوی باید ناپیلي او بې پرې پریکړه وکړي .
نړیواله محکمه د ملګرو ملتو یوه مهمه برخه ده . د م .م. د قانون تطبیقولو او قضائیه اور ګان بلل کیږي .
نړیوالي محکمي ته یواځي دولتونه یا حکومتونه دعوه او یا عارض کیدای شي . دغو هیوادونو باید د م م منشور په رسمیت پیژندلي وي . د دوو هیوادونو په شخړه کي م م نړیواله محکمه تر تولو لوړ پوړي اورګان دی . د م م ټول غړي هیوادونه کولي شي په نړیوالي محکمه کي اپیل وکړي .

د نړیوالي محکمي دندې:

الف . د دوو هیوادونو په کړکیچونو او شخړو کي منځګړتوب کولای شي ، په دې شرط چې دواړه هیوادونه د م م د منځګړتوب غوښتنه وکړي .
ب . م م کولي شي په یوه پیژندل شوي جګړه کي د جنګي جرایمو په اړه څېړنه اوپلټنه وکړي .
له ۱۹۹۳ کال نه راهیسي د جنګي جرایمو برخي ته یوه ځانګړي محکمه ،، د نړیوالوجرایمو محکمه ،، په نوم جوړه شوي ده چې ټول جنګي جرایم په کي وړاندي کیږي . د بیلګي په توګه له ۱۹۹۱ کال نه را پدیخوا د پخواني یوګوسلاویا په جګړه کي د جنګي جرایمو ترسره کید نه .
په ۱۹۹٤ کال کي د افریقي په رواندا کي دِله ایزي وژني یا ولسي عامي وژني په اړه د رواندا ترییونال ځخه یادونه کولی شو.
په ۱۹۹٤ کال کي د لیبیا او چاد هیوادونو ترمنځه د کلونو کلونو سرحدي شخړه په د ن هاګ کي هواره کړل شوه .
په ۲۰۰٤ کال کي اسرائیلو په فلسطیني خاوره کي دیوال تېرولو، چې بیا دغه دیوال د نړیوالو منلو شویو قوانینو پر بنسټ د نړیوالي محکمي له خوا غیر قانوني اعلان کړل شو . د دغي فیصلي اجراء او عملي کولو ته د م م امنیت شورا په اکثریت کي پریکړي ته اړه شته . دا کار ناشوني دی ځکه امریکا او د اسرائیلو متحدین په امنیت شورا کي لاس بري دي .
نړیوالي محکمي په دې ورستیو ٦۰ کالو کي ۱۰۰ فیصلي او ۲۵ مسلکي حقوقي نظریي ورکړي دي .

د نړیوالو جګړیزو جرایمو محکمه

په ۱۹۹۸ کال د جولای میاشتي په ۱۷ نیټه د ایټالیي په پلازمینه کي د ۱۲۰ مثبتو ، ۷ منفي ، د ۲۱ ممتنع رائیو په کارولو سره د م م له خوا جوړ شوي د دولتونو کانفرانس کي دغي نړیوالي محکمي ته رائي وکړل شوي .
د ۲۰۰۲ کال د جولای په لومړۍ نیټه د یوې لویې غونډې په لړ کي ۱۸ قاضیانو خپل کار پیل کړ .
دغه نړیوال ټرون په پیل کي د ۱۰۰ دولتونو له خوا لاسلیک شو .
کوفي عنان ویل : (موږ هیله من یو چې دغه محکمه متهمینو ته په سزا ورکولو هغه قربانیانو ته ، هغو پاتي شویو ته ، هغې متضرري ټولنې ته یوه تسلي او یا د زړه صبر شي .
موږ هیله کوو چې په راتلونکي کي جګړیزه مجرمین ودار کړو، هغه ورځ به رانږدي کړو چې هیڅ یو واکمن، هیڅ یو دولت ، هیڅ یوه دِله ، هیڅ یو پوځ په نړۍ کي د بشري حقوقو تر پښو لاندې کولو سره بې سزا پاتي نه شي) .

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ولي حکومتونو پريکړه وکړه چې يوه نړيواله جګړيزه محکمه جوړه شي او دغه محکمه د نورو محاکمو څخه توپيرلري ؟
د ۱۹٤٥ کال د نوامبر په مياشت کې د دويمې نړيوالې جګړې له پاې ته رسېدو نه شپږ مياشتې ورسته د جګړې ګټونکو يعني متحد ينو ۲۲ جګ پوړي نازي جرمنيان يې د نوررنبرګ محکمې ته ودرول ، چې په دغو جرمونو متهم و.
ولسي عامه نسل وژنې ، د بشريت پر ضد جنايات ، د يرغليزه جګړې پيل .
دا محکمه هماغه وخت تر پوښتنې لاندې وه . له يوې خوا دغه جرمونه په هغه وخت کې د قانون په مادو کې د جزا لاندې نه و، له بلې خوا دغه محکمه د جګړې ګټونکيو يعني متحد ينو له خوا جوړ شوې وه ، چې بې پرې او ناپيلي محکمه نه بلل کېده .
د دويمې نړيوالې جګړې او د نوررنبرګ ، توکيو پوځي تريبونال محاکمو څخه ورسته د م م ملي اسمبلي دا اړينه وبلله چې يوه خپلواکه او ناپيلي نړيواله محکمه رامنځته کړي . په دې وروستيو شلو ، ديرشو کلونو کې د نړۍ په ډيرو برخو کې ولسي عامه وژنې ، نسل وژنه ، توکميزه پاکونه ، جنسي تيري ، جنسي جرايم او د دغې جرمونو متهمين ، مجرمين او مسوولين محکمې ته بايد ودرول شي .
د نړيوالو جرايمو محکمې دندې
۱. ډير ناوړه زړه بوګنونکي جنايات ، ولسي عامې وژنې يا ډلېزې وژنې .
۲. د بشريت پر ضد جنايا ت .
۳. د يرغليزه جګړې پيلولو په اړه خپل حکم صادرول .
د دغوجرمونو مسوول کسان د خپلو جرمونو لپاره نړيوالې محکمه ته بايد ودرول شي .
دغه محکمه له م م سره د همکاري تړون او ډيرې نږدې اړيکې لري . دغه محکمه د م م جنګي جرايمو تريبونال د پخواني يوګوسلاويا نړيواله محکمه او د روانډا نړيوالو جزايي محکمې سره توپير لري . ځکه دغه محاکم د م م له خوا د مخصوصو قضيو او محدود وخت لپاره جوړ شوي وو .

پس له دې د جګړې مسوؤلين او هغه خلک چې ولسي خلک د خپلې سيمې نه کډوالۍ ته مجبوروي ، دغه کسان يا مجرمين د خپل هيواد د ملي استقلاليت ترچټر لاندې له جزا څخه نه شي خلاصيدی .
د جګړې مجرمين په هيڅ ځای کې مصؤن او ډاډمن ځان نشي احساسولای . پس له دې به د جګړې مجرمين دوه واړي فکر وکړي چې خپل پلانونه عملي کړي اوکه نه ؟ په دې بايد وپوهيږي چې د حساب ورځ شته اود خپلو جرمونو لپاره به خپله مجرم شخصآ محکمې ته دريږي .
ولو که ولس او يا د حکومت مشر يا د ولسي جرګې غړي هم وي .
همدا اوس په دن ها ګ کې د اته بوسنيايي او سربې جنرالان چې يوولس کاله مخکې په جګړيزو جرمونو باندې متهم وو، نړيوالې محکمې ته ودرول شوي دي ، چې دا لړۍ دوام لري .
دغه د نړۍ محکمه بايد چې په نړۍ کې د ترسره شويو جنګي جرايمو لټون وکړي . د عراق دکتاتور صدام حسين په دغه محکمه کې محاکمه کيدای شي . امريکايان نه غواړي چې صدام په نړيواله محکمه کې محاکمه شي ، له يو خوا دوی غواړي چې د دغې محکمې ډايرکټران په خپله امريکايان اوسي ، له بلې خوا دوی په خپله ډارېږي چې پرعراق باندې د يرغليزې جګړې په تورخپله متهم نه شي .
الف . کوم جرمونه بايد محکمې ته وړاندې شي ؟
دغې محکمې ته حکومتونه نه بلکې يو کس يا سړی چې نړيوالې ټولنې د ناوړو ، له وحشت نه ډک جناياتو ، زړه بوګنونکو جرمونو مسوول ګڼلی وي وړپيژندل کيږي . دجنګي جرايمو د قانون په ۸،۷،٦ ، مادو کې د جرمونو تعريف شوي دی . دغه قانون د ۲۰۰۱ کال د جولای مياشتې له لومړۍ نېټې څخه نافذ او دغه وخت څخه را په دې خوا د جرمونو پلټنې کوي . د م م امنيت شورا لخوا د م م منشور د اووم څپرکي پر بنسټ نړيوالې محکمې ته دپخوانيو جرمونو د پلټنې دنده سپارل کيداي شي .
په بله معنا د غې محکمې ته هغه کسان يا جګړپيزه جرمونه چې پخوا هم تر سره شوي وي ، وړاندې کيږي .
دغې محکمې ته د ترهګرۍ او د مخدره توکيو د قاچاق جرمونه نه وړاندې کيږي .
ب . له نورو محکمو سره همکاري
لومړيتوب ملي محاکم لري ، نړيواله جګړيزه محکمه هيڅ وخت نشي کولاي چې د ملي محکمې حيثيت پر ځاي کړي .
نړيوالې جګړيزې محکمې هغه وخت کولې شي خپل کار پيل کړي ، کله چې يوه ملي محکمه په دې ونه توانيږي او يا نه غواړي خپله عمل وکړي .

افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

یوازي هغه وخت عمل کوي چې یو دولت یا هیواد کې دولتي قضایي سیستم له منځه تللي وي او یا ډیر وخت فعاله نه وي . د بېلګې په توګه لکه په افغانستان کې د عدلي او قضایي اوسني حالات .
په دې شرایطو کې نړیواله جزایي محکمه رابلل کیداي شي .
د . کله د نړیوالي محکمې شرایط پوره کیږي چې عمل وکړي ؟
کله چې یو هیواد دغه ټرون لاسلیک کړي وي . کله چې جنګي جنایت د ټرون لاسلیک هیواد په خاوره کې تر سره شوي وي .

ګونتانامو به زندان

له شپږسوونه ډیر بندیان اټکل له پنځه څلویښتو هیوادنو څخه ، چې دوی د القاعده سازمان او یا د طالبانو حکومت پورې تړلي کسان دي ، امریکایانو په افغانستان کې او یا نور ځایونو کې نیولي دي . دغه کسان د څلور نیمو کلونو راهیسي د امریکې په پوځي اډه ګونتانامو کې بې له کوم ثبوته او ثابت جرم ، بې له کوم مدافع وکیل او بې له کومې عدلي قضایي پریکړې څخه په ډیر سختو حالاتو کې بندیان دي . دغو خلکو ته د ژنیوا کنوانسیون پر بنسټ د جنګي بندیانودریځ په نه منلو سره ، ټوله نړیواله ټولنه هک پک ده ، دوي په ډیر ناوړه او له زغم نه په وتلو شرایطو کې ساتل کیږي ، چې د هر بشردوسته انسان غوصه راپاروي .
د وخت په تیریدو سره له سلو نه ډیر افغانان او نور وګړي بیرته خپلو هیوادو ته ولیږد ول شول او یا په بګرام او یا نورو هیوادو کې په همدې شرایطوکې لادرکه ساتل کیږي .
د خوشې شویو بندیانو په منځ کې اتلس کلن عمر نه ټیټ هم کسان وو ، چې د نیول کیدو پر مهال دوي لا تنکي ځوانان وو .
په حقیقت کې د امریکې دفاع وزارت پنټاګون د بندیانو پیژندنه او دقیقه شمیره نه په ډاګه کوي . هر بندي ته د دښمن سرتیري په ځیر کتل کیږي او همداسي چلند ورسره کیږي .
د بوش پر اداره او پنټاګون باندې ټولې نړۍ ، اروپایي هیوادونو او اروپایي ولسي جرګې ، م م ، د بشري حقونو د ځار نړیوالي ډلې او داسي نورو سازمانونو څوځو واري په کلکه او نیغه ګوتنیوني کړي ، چې دغه په خپل سرجوړ شوي جنګي تریبونال او د پلټنې ځاي باید وټرل شي .
اروپایي مشرانو د ګوانتانامو د ټرلو لپاره پر ولسمشر بوش زور اچاولی دی .
همدا اوس چې دا کرښې لیکل کیږي د امریکې ستري محکمې پریکړه وکړه چې دغه جنګي تریبونال د امریکې اساسي قانون مغایر، د ژنیو کنوانسیون مخالف دی او ورسره یې دغه زندان غیر قانوني اعلان کړ .
د بوش اداري او امریکې ته د ستري محکمې د دغې پریکړې په اوریدو، د ترهګري پرضد جګړه کې ستره ماتې په برخه شوې او پنټاګون د ستري محکمې تر فشار لاندې راغلی دی . د امریکایانو دغه عمل د نړۍ په قضایي عدالت کې یو تور داغ پاتې شو .
دنړیوال سور صلیب کمیټې او د بشري حقوقو سازمانونو څوواري هڅه وکړه چې د بوش حکومت د ژنیوکنوانسیون له سر غړونې څخه راوګرځوي . اوس د بوش حکومت په سپتمبر کې د ولسي جرګې په ټاکنوکې د واک بدلون وینې او احساس وي او غواړي چې د جنګي جرایمو قانون نوی تعریف کړي ، چې د خپل حکومت دد فتر میزونو ترشا ناست مجرمین له نړیوالي جزایي پلټنې او محاکمو څخه وژغوري .
امریکایانو ته جګړه یو نورمال حالت دی . د امریکې په تاریخ کې یو کال بې له جګړې نه شو موندلی .
د سروپوستو (هندیانه) د له منځه وړلو جګړې ، په لاتینه امریکا کې د سي ای ای جزایي پلټنې ، په دوو نړیوالو جګړو کې برخه اخیستنه ، د ویتنام جګړه ، بیا د جلیج جګړې ، د یوګوسلاویا جګړه ، او د افغانستان جګړې یادولای شو . امریکایانو د دویمې نړیوالې جګړې څخه را په دې خواد دریوسوو نه ډیرو وسلوالو شخړو کې برخه اخیستې ده . په ډیروشخړو کې یې د بشر نړیوال قانون مات او تر پښو لاندې کړی دی . تر سره شوي اعمال د بشریت پرضد جنایات دي .
امریکې د نړیوالوجزایي محکمې په برخه کې ځان کون او کور اچولی دی . واشنګټن د دن هاګ تریبونال ته په ډیره شکې سترګه ګوري او په خپله هیڅ ډاډمن نه دي چې نړیوال بشري قانون او مقررات ومني او پلي یې کړي . متحده ایالات خپلو سرتیرو ته او د خپلو پوځي عملیاتو لپاره نړیوال مصؤونیت غواړي . په بل عبارت هر دول وهلو ټکولو ته ازاد لیسنس غواړي . که داسي نه شي بیا امریکایان په بوسنیا کې د م م په پوځي عملیاتو باندې بندیزونه لګوي .

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د نړۍ امنیت شورا څوارلس غړي تراوسه په یو خوله د امریکي دغه غوښتنه یا خاص ځای او امتیاز نه مني .
امریکایان ډاریږي او په دې اند دي که چیري د ن هاګ نړیوالي محکمې هغه پرنسیب پلی کړ، چې واک په قانون پسې نه چې قانون په واک پسې روان وي او د واک او قانون ترمنځه د فولا دو پټلي ویستله شوه ، بیابه نو دغه پرنسیب د امریکي د سیاست او ګټو پر ضد وي .
د جورج بوش حکومت دوه واري یو یو کال امریکایي وګړ اوسرتیرو ته مصؤونیت واخیست، د بل کال پته نشته .

افغانستان ، نړیوال قوانین او محاکم

افغانستان په نړیوال کلي او نړیوالي مدني ټولني کې خپل کور، په د پیلوماتیکو هځو او د ملګروملتوو په چوکاټ کې خپل ځای او ملي او نړیوال اعتبار لاسته راوړل غواړي . په همدې وجه باید د افغانستان بهرنی سیاست روښانه ، په نړیوال نورمونو برابر او ملي ګټو ته خاص پام ولري . افغانستان اوس یو وار بیا ډیر نړیوال قوانین او د جنایي نړیوالي محکمې ټرون یې هم لاسلیک کړی دی .
د جنګي جنایتکارانو محکمه په افغانستان کې سوله ، ثبات او امنیت تامینوي . په افغانستان کې تل پاتې سوله او امنیت د قضایي عدالت له پلي کولو څخه بهر ناشوني دي . په افغاني ټولنه کې د بدل او غچ اخیستلو کلتورلا ژوندي دی . جزایي عدالت د وژنې پر وړاندې د غچ اخیستنې د مخنیوي یوه لاره ده .
که جګړییزه مجرمین محاکمې ته ونه سپارل شي ، د اشوني ده چې خلک په خپل سر غچ اخستلو ته اړ شي .
د مجرمینو بخښنه د عدالت له تامین نه ورسته یوازي او یوازي قربانیانو پور اړه لري . بخښنه د جزایي محکمې نه مخکې ، دا پته نه لګیږي چې چا څوک د څه لپاره وبخښل ؟ . قربانیان باید مجرمینو ته اجازه ورکړي چې په ټولنه کې له دوي سره ژوند وکړي . دا چې نن مجرمین په واک کې دي او دوي قربانیانو ته اجازه ورکړي په ټولنه کې ژوند وکړي . دا حالت یو افغان ته د زغم وړ نه دی .

که چیري جنایت کونکي او د بشریت ضد مجرمین محاکمه شي ، په ټول هیواد کې به اساسي مثبت بدلونونه رامنځته شي او سړي اوبه به پر افغان جګړه ځپلي ټولنه (د اوږدې جګړې روحي تراومه یا غمیره) باندې تویې شي .
د دیرش کلنې جګړې ژور ټپونه زموږ په ټولنه کې هغه وخت رغیږي چې زموږ بې ګناه ، بې وزلو کونډو ،رنډو، یتیمانو او شریفو هیوادولو مجرمین او قاتلین یوې نړیوالي محکمې ته وسپارل شي .
افغان ولس د هیواد په قضایي او عدلي اورګانونو نا باوره شوي دي، ځکه دغه محاکم ډیر سیاسي او په کې د بدو اخیستل عامه خبره ده . بل دا چې د حقوقي پوهې د نشتوالي سره مخامخ دي ، خپلواک نه دي ، ناپیلي قاضیان او په نړیوالو نورمونو برابرمحاکم په افغانستان کې وجود نه لري .
د افغانستان لپاره یوه عادلانه ، خپلواکه ، ناپیلي محکمه د نړیوالو قاضیانو له خوا جوړیدای شي . یوه محکمه چې سیاسي ناپیلي نه وي ، د هغې په عدالت هیڅ څوک عتبار نه کوي . افغانستان په خپل دیرش کلنو ناورینونو کې له قانون اود فعاله عدلي او قضایي سیستم له نشتولي څخه ډیر ځوریدلی دی .
نن بیا موږ د یو ولسواکه دولت په لور چې بنسټ یې پر ټولنیز عدالت او د بشر د حقوقو پر اصولو ولاړ وي ، ګام اخلو .
موږ افغانان د بشري ضد جنایاتو میراث چې د تیرو حکومتونو او وسلوالو ډلو له خوا تر سره شوي دي، په خپل پلارني هیواد کې نشو زغملي . په دغه دوه نیمو لسیزوکې ډیر زیادت بشري ضد سرغړوني ، زورزیاتي ، بې عدالتي ، د هیواد مادي او معنوي ورانۍ ، د ټولنیزو او فرهنګي ارزښتونو ویجاړ ول او نور تر سره شوي ، چې دا ټول زموږ د تاریخ توري پاڼي لیکي .
د تاریخ دغه توري پاڼي هیرول د افغان ولس لپاره زهر څښل اود ځان وژنې معنا لري . موږ نن خپل راتلونکي د خپل تیر تاریخ څخه بهر نشو جوړولي .
د افغانستان اسلامي جمهوریت سیاست د بشرۍ حقوقو د سرغړونو ، جنګي جنایاتو او د بشریت ضد د جرمونو په هکه تر هغه د اعتبا وړ نه دی تر څو چې خپل اورګانونه یې له دغو پیژندل شویو مجرمینو یا سرطاني غُدو څخه پاک کړي نه وی . له دې نه مخکې د هیواد عدلي ، قضایي او اداري سیستم ولس ته د اعتبار او منلو وړ نه دی .
په افغانستان کې د قانون د حاکمیت نه ټینګیدل او له سزا نه د مجرمینود معافیت کلتور باید پای ته ورسیږي
د قانون له حاکمیت څخه سرغړونه د تیرو دورو جګړو او نا خوالو د کورنیو او بهرنیو جګړو ګډ خصوصیت و . په پایله کې د هیوادله سزا څخه د مجرمینو د معافیت د ستونزي سره مخامخ شو، په خواشینۍ سره باید وویل شي چې د دوی یوه لویه برخه تر اوسه په حکومتي واک او ځواک کې پاتې ده .

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د څرخی پله په زندان کي په ډله ییزو قبرونو کي د زرګونو سیاسي، ملي مخورو افغانانو مړي ځای پر ځای دي .
د ۱۹۹۲ کال د ارګ یا مرګ جګړې په کابل ښار کي عامي وژنې د کرکي نه ډ ک او زړه بوګنونکي جنایاتو محاکمه غواړي .
په ۲۰۰۱ کال د نومبر په میاشت کي د افغانستان په شمال کي د شبرغان په لیلي دښته کي ژوندي ، ټپي او تسلیم شوي جنګي اسیران ښخول او په اوسپنیزو تابوتونو، په پولادي کنټینري قبرونو کي ایسارولو او د ډله ییزي وژنې پوښتنې ګروپږني او پلټنې مهال رانږدي شوي دي . په دي اړه مستند فلمونه اونړیوالو محاکمو ته دقیق اسناد راټول شوي دي .
د بې دفاع جنګي زندانیانو وژل د نړۍ په ټولو هیوادونو کي بشري ضد جنایت دی . له دویمي نړیوالي جګړې ځخه ورسته د جرمني او جاپان جنرالان د همدي جنایاتو په امر ورکولو اعدام شول .
په افغانستان کي به دغه ککړ خلک خپل حساب ته خامخا وروررسیږي .
په دي اړه د بشري حقوقو لپاره د ملګروملتوو عالي کمیساري رپوټونه خپاره کړي دي . د افغانستان لپاره د عدالت پروژه یو ډیر خورا ارزښتمن رپوټ جوړکړی دی ، چې د لومړي لاس د ځیرنو پایلو او د عیني شاهدانو شهادت بیلګې په کي راټولي شوي دي . د افغانستان د بشري حقوقو د ځارنې خپلواک کمیسون د تیرو جګړییزو او بشري ضد سرغړونو په اړه د افغان ولس غږ او اسناد راټول کړي دي .

په همدې ډول د بشر حقوقو حقونو ځخه سرغړونو او د هغه د مسؤولینو په هکله یوه ځیرنه تر سره شوي ده .
دا چې ولي تر اوسه د بشري حقوقو ځخه د سرغړونو په هکله ځیرني نه دي پیل شوي او له افغان ولس سره د عدالت پلي کول اوعدالت راوستل په ټپه دریدلي او پټ پوښلي پاتي دي ؟ ځواب باید نور مسؤول کسان ورکړي .
د دولت په اړه د ولس ناهیلۍ او ژوړې بې اعتمادۍ ورو ورو یوو اټن رامنځه کړی دی .
د جنګي مجرمینو محاکمه کول د امنیت په ټینګولو کي ښه رول لوبولی شي او د امنیت په پراخوالي کي مرسته کوي . جنګي جنایتکاران همدا اوس د بې امنیتي او بې ثباتي اصلي لاملونه دي .
د سزا له ورکولوسره به مجرمین له اوسني واک او ځواک ځخه لري کړی شي .
نړیوالي ټولنې تر اوسه د ترهګري ضد جګړې د ګټلو په هیله له جګړییزو سرغړونکواو مجرمینو ځخه ملاتړ کړي دی . په لوړو ځوکړو د بشرۍ حقوقو د سرغړونکو ګومارل د هغوی د جنایتونو تائید دی . د بن د ټرون ځخه ترننه پورې د قانون حاکمیت پراختیا پروسه ډیره ورو ورو او له خنډونو ځخه ډکه پرمخ بیول شوی ده .
افغانان د نړۍ له پوهې او تجربو ځخه په ښه توګه ګټه اخیستلې شي . د افغانستان لپاره باید د افغانیت او افغاني ټولنې خاصو دودونو سره سم د حقیقت موندلو کمیسیون د نړۍ د نور هیوادنو په شان لکه چې سهیلي افریقا ته جوړ شوی ، جوړ شي .

په افغانستان کي دناټو ټرون ۲۶ غړیو هیوادو ځخه ۱۹ هیوادو د نړیوالو جنګي جرایمو ټرون لاسلیک کړی دی . اروپایان به خپل رول په افغانستان کي ډیر غلط ولوبوي او د ترهګري ضد جګړه به یو تور ارخ ولري ، د لویدیځوالو اعتبار او د ارزښتونو سیستم به تر پوښتني لاندي راشي که دوي په دي برخه کي عمل ونه کړ ي .
افغان دولت او نړیواله ټولنه بایدافغان ولس ته داسې ملي استراتیژي جوړه کړي چې د قربانیانود حقوقو درنښت وساتل شي او روحي ارامه شي . د بشري ضد جنایتونو د قربانیانواو زیانمو شویو پیژندنه او هغوی ته پاملرنه یوه بیړنۍ ارتیا ده .

افغانان د نړیوالي ټولنې او ناټو ځواکونو ځخه د مرستو غوښتونکي دي ، چې ژر تر ژره د بشرۍ حقوقو د سرغړونکو ، جګړییز، تورنو کسانو نیوال پیل او دوی په نړیوالي جګړیزه محکمې کي محاکمې ته ودرول شي . ځکه جنګي مجرمین او د ټوپکوالو په حکومت او په خپله سیمه کي ډیرغښتلي او ځواکمن شوي دی . د دوی نیوال د افغان حکومت له وسه وتلي خبره ده . د دولتي واک اصلي کربنې د بشر ضد مجرمینو په لاس او واک کي دي . دوي باید د خپلو دندو ځخه ګوښه او محاکمې ته ودرول شي . چې په دي توګه په افغان ټولنه کي عدالت تامین شي او افغانانو ته دغه باور پیدا شي چې له سزاوو ځخه د معافیت لرې پای ته رسیدلي او مجرمینو ته دا وخت نور ورنه کړل شي چې په نورو سرغړونو لاس پور کړي .
د افغانستان د ډیرو خلکو بشرۍ حقوق د جګړو په بهیر کي تر پښولاندې شوي . دوی د دغو حقوقو ځخه د محرومیت ستر قربانیان دي .

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

لندیز:

تر څو چې د ناټو په مشري د افغانستان اوسنۍ نا امنیو ډیریدلو ستونزې په بشپړه توګه نه وي هواري شوي ، نه افغانستان او نه نړۍ سوله لیدلي شي .
د افغا نستان بهرنۍ نړیوال سیاست د ننګونو سره مخامخ دی ، د ا فغانانو دلومړیتوبونو پر بنسبټ باید خاص پام وشي . د بناغلي کرزۍ ورستي وینا چې حکومت یې د افغانستان په ډیرو برخو کې د بشر د حقوقو په ساتلو او د دریو لسیزو پر مهال جګړییزو مجرمینو په نیولو کې پاتې راغلي او دغه ککړ کسان محکمې ته نشي درولی.
افغانان یې ډیر ناهیلي کړ ي دي . د کرزۍ حکومت باید ژر تر ژره په هیواد کې د بشریت ، کرامت ، قانونیت او حاکمیت د اعادهٔ لپاره لاره نړیوالي محکمې ته هواره کړي .
جنګي مجرمینو دنړۍ په هېڅ ځای کې ځان مصؤن او ډادمن نشي احساسولالي ، ایا په افغانستان کې نوره عدالت نشته ؟
لومړی . باید چې د ګونتانامو له بد نام زندان څخه ټول افغانان خپل هیواد ته راوستل شي . دغه زندان باید وټړل شي .
همداسي د نړۍ په ګوټ ګوټ کې له نور زندانونو څخه افغانان په خپلو دیپلوماتیکي هڅو هیواد ته راستانه کړل شي .
دوهم . د جګړییزو مجرمینو اسناد راټول او په جنګي جرمونو ککړ کسان محکمې ته ودرول شي . په افغانستان کې ملي نظر دا دی چې د جګړو په بهیر کې افغان ولس ته د ځرګندو جنګي جنایتکارانو څو درجنه کسان د محاکمې تطبیقي بڼه لري .
دریم . په ۱۹۷۹ د دسامبر په میاشت کې پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد پرغلیزه جګړه او د جنګ تاوان موضوع دی له اوسنۍ روسیه سره مطرح شي ، د پرغلیزې جګړې تاوان دي وغوښتل شي . روسیه باید د خپلو جنایتونو او بشري ضداعمالو لپاره له افغان ولس څخه بخښنه وغواړي .

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de